# د مور او پلار درې حقونه

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! الله او رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مونږ ته د مور او پلار سره د نیکۍ او د ښیګړې کولو حکم کړے دے- دا جنَّت ته بوتلونکے عمل دے- د مور او پلار ډیر حقونه دي، پهٔ کومو کښې چې درې مونږه مخکښې زده کړي وو او درې به نن زده کوو- راځئ چې وړومبے د زده کړے شوو حقونو دوهرائي وکړو: (1): اطاعت او تابعداري (2): مور او پلار راضي ساتل (3): د مور او پلار خدمت کول-

نور درې حقونه کوم چې نن زده کول دي:

وړومبے حق: د مور او پلار ادب او احترام کول

وضاحت: دِينِ اِسلام د مور او پلار د ادب او د احترام ډیر تاکید فرمائیلے دے، د مور او پلار د ادب کولو ډیر صورتونه دي- مثلاً ❀ چې مور جانه یا بابا جان پهٔ تشریف راوړلو ووینې نو د ادب پهٔ توګه ودرېږئ ❀ د هغوئي پهٔ سترګو کښې د سترګو اچولو سره خبرې مهٔ کوئ ❀ که هغوئي مو راوبلي نو فوراً حاضر شئ ❀ پهٔ تمیز سره پهٔ "تاسو او جناب" سره خبرې کوئ ❀ د هغوئي پهٔ موجودګۍ کښې هیڅ کله هم خپل اواز تیز مهٔ ساتئ وغیره وغیره- نن سبا د دې حق طرف ته پام ډیر کم کیږي ❀ د مور او پلار پهٔ مخکښې پهٔ تیز اواز خبرې کول ❀ د هغوئي سره انښتل، جګړه کول ❀ تا زما د پاره کړي څهٔ دي وغیره د بے ادبۍ او د زړهٔ د ازارولو جملې وئیل ❀ د هغوئي غیبت کول ❀ د دوستانو او خپلوانو پهٔ مخکښې د هغوئي بد بیانول وغیره عام دي، بلکې د مور او پلار د وهلو او مَعَاذَ الله! د وژلو پورې خبرونه هم پهٔ اخبارونو کښې راځي- الله پاک دې مونږه د مور او پلار د بے ادبۍ نه محفوظ کړي- خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: ❀ د خپل پلار نه مخکښې مهٔ ځئ ❀ هغوئي ته کنځلې مهٔ کوئ ❀ د هغوئي د کیناستو نه مخکښې مهٔ کښینئ ❀ او هغوئي ته پهٔ نوم سره اوازمهٔ کوئ-(1)

---

1...الجامع في الحديث لابن وهب، صفحه:212، حديث:139-

## دويم حق: د مور او پلار د پاره دُعا کول

**وضاحت:** د چا مور او پلار چې ژوندي دي، هغوئي دې هم د هغوئي د پاره دُعا کوي او د چا مور او پلار چې وفات شوي دي، هغوئي خو دې لازمي دُعا کوي چې اوس هغوئي ته هُم د دُعا ډير حاجت دے- نبي کريم، رؤوف الرحيم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د پلار د وفات نه پس د هغوئي د پاره د بخښنې دُعا کول، نيکي ده-(1) منقول دي: د مور او پلار د پاره دُعا پريښودل (پۀ رزق کښې) د بے برکتۍ سبب دے-(2)

## دريم حق: د مور او پلار د مُتَعَلِّقينو سره صِله رحمي کول

**وضاحت:** يعنې د مور او پلار د خپلوانو او دوستانو وغيره سره ښۀ سلوک کول- د رسولِ ذيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ بارګاه کښې يو کَس عرض وکړو: يا رسولَ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! آيا د مور او پلار سره د وفات نه پس د هغوئي سره د نيکۍ څۀ صورت شته؟ اوئې فرمائيل: آؤ ❀ د هغوئي جنازه کول ❀ د هغوئي د بخښنې د پاره دُعا کول ❀ د هغوئي وصيت پوره کول ❀ **د هغوئي د خپلوانو سره صِله رحمي کول ❀ او د هغوئي د دوستانو احترام کول-**(3) ابن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ يو ځل پۀ سورلۍ باندې چرته روان وو، پۀ لاره کښې ورسره يو کَس ميلاؤ شو، ابن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ هغۀ پۀ سورلۍ کښينولو او خپله مبارکه عمامه يې هم هغۀ ته عطا کړه، صحابۀ کرامو رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُم ووئيل: اللّٰه پاک دې تاسو وبخښي، تاسو خپله سورلۍ او عمامه دۀ ته ولې عطا کړه؟ عبد اللّٰه بن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُما وفرمائيل: د دې کَس والد زما د والد عمر بن خطاب رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ دوست وو، د دواړو جهانو تاجدار، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د خپل والِد د دوستانو سره ښۀ سلوک کول د ټولو نه لويه نيکي ده-(4)

---

[1]... معجم الصحابه لابن قانع، ابو اسيد الساعدى، جلد:3، صفحه:37-

[2]... تنبيه الغافلين، باب حق الوالدين، صفحه:69، مفهومًا-

[3]... سنن ابو داود، كتاب الادب، باب فى بر الوالدين، صفحه:802، حديث:5142-

[4]... مسلم، كتاب البر والصلة والآداب، باب فضل صلة اصدقاء الاب والام ونحوها، صفحه:996، حديث:2552-

